سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۶/۲۳

# یوه پیـېرۍ ژړا

نورځومره وژاړم، چی غم مې له سینې لرې شي
صبر شم څومره، چې غماز دی له کوڅې لرې شي؟

څومره نور پاتی، منتظر شم چی دی مخ و وینم
له سپوږمۍ مخ نه دی، د وریځو دا پردې لری شی؟

غواړی تر هغه وخت، له سترګو اوښکی و څڅوم
چی می په دواړو اوږو، ناستې پرښتې لری شی؟

پرون می ولید چی دی، لاس درقیب لاس کی ورکړ
اوس څنګه لار نه، ستا د وړلو قافلې لری شی؟

ماته خو دی روانه لوبه کی، څه چل ښکاره شو
باور می نشی ، که له سر می تمانچې لری شی

خیر دی یوه پیېرۍ به، نوره هم ژړا وکړمه
خو، که له زړه، د پټی ویرې وسوسې لری شی

چی کلیوال ته می، کوم زیری د سبا د پاره
د خوښۍ زیری شی، د غم به خاطرې لری شی

جون/۱۵/۲۰۱۹
ایجکس ـ تورنتو ـ کاناډا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ